نړیوال بانك
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

دافغانستان اسلامي جمهوریت

# د افغانستان دولت او د افغانستان د بیارغونې د صندوق تر منځ د پوهنې د ملي پروګرامونو د نوي تمویل په اړه د تړون لاسلیک

**کابل، د وري ۲۵- ۱۳۸۸(د ۲۰۰۹ میلادي کال د اپریل ۱۴ مه):** د افغانستان اسلامي جمهوریت او نړیوال بانك د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق د ۳۰ تمویلوونکو مراجعو په استازیتوب، نن د افغانستان د ادارې او مدیریت د ملي انستیتوت د پرمختګ د روانو پروګرامونو څخه د ملاتړ په موخه د ۴۴ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت دوه تړونونه لاسلیك کړل. نوموړي تړونونه د مالیې وزیر جلالتمآب داکتر عمرزاخیلوال او د افغانستان له پاره د نړیوال بانك عمومي رییس ښاغلي نك کرافت له خوا لاسلیك شول.

*"زده کړه او پوهنه په افغانستان کې د سوکالۍ د تامین له پاره یو مهم عنصر دي،"* دغه مطلب **د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مالیې وزیر ښاغلي داکتر عمر زاخیلوال** څرګند کړ، زیاته یې کړه: *"په تیرو اوو کلونو کې موږ ډیرې لاس ته راوړنې درلودې، خو اوس هم ډیر کارونه پاتې دي چې باید تر سره کړل شي، په ځانګړې ډول د ښځو د زده کړې په برخه کې. موږ دې ته اړتیالرو چې یو خوندي چاپیریال چې په هغه کې زده کوونکي ډاډمنه زده کړه وکړای شي، رامینځته کړو. د ښوونځیو د ودانیوپه ګډون، ترڅو مینډې او پلرونه ښوونځیو ته د خپلو ماشومانو د رالیږلو له پاره و هڅول شي. څرګنده ده چې د نن ورځې زده کوونکي د سبا ورځې لارښوونکي او مشران دي. نو په همدې اساس د پوهنې په برخه کې پانګه اچونه به د افغانستان د راتلونکې پرمختګ او سوکالۍ د تامین لامل وګرځي."*

د افغانستان د بیا رغونی د وجهي صندوق وړیا مرسته(۳۵ میلیونه امریکایي ډالر)  د پوهنې د کیفیت د پرمختګ د پروګرام د تمویل لپاره برابرېږي چې موخه یې په ځانګړې ډول اساسي او کیفیت لرونکو زده کړو ته د نجونو برابر او مساوي لاسرسی، او د ښوونکو او ادارې پیاوړتیا ده. نوموړې پروژې د سیمي د خلکو او خصوصي تهیه کوونکو په مرسته یو غښتلې مشارکت رامینځته کړې دي. په ۲۰۰۴ میلادي کال کی د پروژې د پیل څخه را پدیخوا له ۸۲۲ څخه زیات ښوونځې جوړشوي او په ټول هیواد کې د ۸۱۸۹ شاوخوا د ښوونځیو شوراګانې رامینځته شوې دي. د ښوونځیوشوراګانې د ښوونځیو د ودانیو د بیارغونې او د نوو جوړو شوو ودانیو د چارو او د باکیفیته لومړنیو موادو، لکه د تدریس او زده کړې موادو ته د لاس رسي د چارو د څارنې په موخه رامینځته شوي دي.

*"په تیرو اوو کلوونکې زموږ د پوهنې په سکتورکې زیات پرمختګونه شوي دي. اوس تقریبا د یوولس زرو په شاوخواکې ښوونیزې روزنیزې موسسې فعالیت کوي، چې ۶،۲  میلیونه زده کوونکي چې په سلو کې ۳۵،۵ نجونې دي، په هغوکې زده کړه کوي. خو اوس هم په افغانستان کې ښوونځیو ته د تللوعمر لرونکي نیمایي ماشومان لا له ښوونځیوڅخه لیرې او بهر پاتې دي. چې دغه شمیر د ټولې نړۍ د هغو ماشومانو چې له ښوونځیو څخه بې برخې دي، په سلو کې ۷ برخه جوړوي،"* د دغه مطلب یادونه **د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر جلالتماب فاروق وردك** وکړه: "په همدې ترتیب د جګړې او شخړوکلونو افغانستان د کارپوهانو (متخصصینو) له بشري پانګې څخه بې برخې کړې او په ټولو سکتورونو کې د مهارتونو پراخه کمښت لیدل کیږي. د افغانستان د بیارغونې د صندوق دغه تمویلي وجهې په ښوونځیوکې د نجونو او هلکانو د زیات ګډون او شمولیت له پاره ارزښتناکې دي او په دې لړکې به دا د دي لامل وګرځي چې د بیلابیلو سکتورونو د ادارو په ټیټو بستونو کې د پیاوړې او د استخدام وړ پرسونل په کال کې ۱۵۰۰ تنو په شمیر زیات شي."

د افغانستان د اداره او مدیریت ملي انستیتوت له پاره د وړیا مالي مرستې (۹ میلیونه امریکایي ډالرو) موخه په افغانستان کې د مهارتونوله پیاوړتیا نه د اوسني پروګرام له ملاتړ څخه عبارت دي. نوموړي پروګرام داسې طرحه شوي دي چې افغاني کارپوهانوشمیر زیاتوالي وومي او د با کیفیته تخنیکي حرفوي زده کړي چې بازار او اقتصادي اړتیاووته ځواب ووایي،

رامینځته شي. د افغانستان د بیارغوني صندوق تمویلي وجهي په مشخصه توګه د انستیتوت د موجودو زیربنایي ودانیو د رامینځته کولو، جوړولو او بیارغولو څخه ملاتړکوي، چې په هغوکې د ښځینه او نارینه زده کونکو د استوګنې ودانۍ، تفریح ځایونه، تدریسي ودانۍ او نوري اسانتیاوې شاملې دي.

*"نړیوال بانك د پوهنې له سکتور سره له ۲۰۰۲م کال راهیسې مرسته کړې او د هغې نتیجې سره له موجودو ګواښونو د قناعت وړ دي،"* دغه مطلب **په افغانستان کې د نړیوال بانك عمومي رئیس ښاغلي نك کرافت** څرګند کړ، زیاته یې کړه: هرڅوکه لاس ته راوړنې هم زیاتې دي، خو د پوهنې د سکټور ستونزې او ګواښونې، په ځانګړې توګه د پوهنې د کیفیت په اړه اوس هم زیات ستونزې موجود دي. د پوهنې وزارت د افغانستان د تعلیمي سکتور له پاره د پوهنې ملي ستراتیژیك پلان (۱۳۸۵-۱۳۸۹) کې خپل واضح تګلاره لیکلي دي. تمویلونکي مراجع د افغانستان د بیارغوني د صندوق له لارې د دولت له پاره د تمویلي و جهو او مرستود یوې مهمې همغږې کوونکي منبع په توګه د پالیسي په برخه کې سلا مشورې برابروي. نړیوال بانك خوښ دي چې نوموړي ګډون او مشارکت یې اسانه کړي. او زموږ زیاتې همکارۍ ته سترګې پر لار دي.

نړیوال بانك تراوسه پورې د پوهنې د کیفیت د ښه والي د پروژې له پاره ۶۵ میلیونه امریکایي ډالر، او سربیره پر دې یې ۲۰ میلیونه امریکایي ډالر په افغانستان کې د مهارتونو د لوړتیا له پاره ژمنه کړې ده.

**د افغانستان د بیارغوني د صندوق په هکله معلومات:**
د افغانستان د بیارغوني صندوق د ۲۰۰۲م کال د می په میاشت کې د افغانستان له پاره د مهموما لي مرستو د برابرولو له پاره رامینځته شو. نوموړي صندوق دوه ځانګړې کړکۍ لري. یوه د عادي لګښتونه کړکۍ ده چې د دولت د عادي لګښتونو، له هغې جملې څخه د ښوونکو، روغتیایي کارکوونکو او نورو اداري کارکوونکو معاشونو، له پاره وجهه او پانګه برابروي. بله د صندوق د پرمختیایي لګښتونو کړکۍ ده چې د پانګه اچوونکو پروژو وجهې د ملي پرمختیایي ستراتیژي په اساس په ځینو سکټورونو او برخو لکه: کرنه، د کلیوپراختیا او پرمختیا، عدلیه، د خصوصي سکتور پرمختیا، د ظرفیتونولوړاوي، پوهنه، ښاري پرمختیا، ترانسپورت او انرژي کې برابروي. ۳۰ تمویلونکي مراجع ګانې له ۳ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د افغانستان د بیارغوني له صندوق سره د ۲۰۰۹ م کال د مارچ ۲۰ نیټې پورې ژمنه کړې ده. چې له هغې جملې څخه یې تراوسه ۲،۹ میلیارد ډالر، وصول شوي دي. له ۱،۷ امریکایي ډالرو څخه زیات یې د دولت د عادي لګښتونو او له یوه میلیارد ډالرو څخه زیات یې د پانګه اچونې د پروژو له پاره ورکړل شوي دي.

د افغانستان د بیارغوني صندوق په ګډه توګه د آسیایي پرمختیایي بانك، اسلامي پرمختیایي بانك، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام او نړیوال بانك له خوا اداره کیږي. د مالیې وزارت استازي د مدیره هئیت په میاشتنیوغونډوکې د کتونکو په توګه ګډون کوي. یوه څارونکې موسسه د جاري لګښتونو تنظیم د افغانستان د بیارغوني د صندوق په چوکاټ کې تامینوي.

د پوهنې در کیفیت د ښه والي د پروګرام په هکله د زیاتو معلوماتو له پاره دې لاندې انترنټي پاڼو ته مراجعه وکړای:
http://go.worldbank.org/ZY2Y28OZD0

د مهارتونو د لوړتیا د پروګرام په هکله د زیاتو معلوماتو له پاره دې لاندې انترنټي پاڼو ته مراجعه وکړای:
http://go.worldbank.org/D0E9BXOOV0


**دزیاتو معلوماتو له پاره له دې لاندې اشخاصو سره اړیکې ونیسئ:**

عزیزالدین شمس
دمالیې وزارت دمطبوعاتي دفتر مسوول
۰۷۹۹۳۲۶۳۸۲
mof.media@gmail.com

عبدالروف ضیاء
دنړیوال بانك ددفتر دمطبوعاتو او عامه اړیکو مسوول
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
azia@worldbank.org